جمهورية مصر العربية ٤رجب ١٤٤١هـ

وزارة الأوقاف لغة البشتو ٢٨فبراير ٢٠٢٠م

(١)

## د نیکو او بدو کارونو مفهوم

ټول ثنا او صفت د هغه الله جل جلاله لپاره دی چې د ټولو مخلوقاتو پالونکی دی هغه پخپل کتاب کې فرمایلي: **« مَّنْ عَمِلَ صَالِحًا فَلِنَفْسِهِ وَمَنْ أَسَاءَ فَعَلَيْهَا وَمَا رَبُّكَ بِظَلَّامٍ لِّلْعَبِيدِ»**ژباړه:« څوك چې ښه عمل وکړي، د خپل ځان لپاره به ښه وکړي؛ څوك چې بدي وکړي د هغې وبال به پر همغه وي. او ستا رب د خپلو بندګانو په حق کښې ظالم نه دی.» او زه ګواهي ورکوم چې نشته لایق د عبادت مګر یو الله دی چې هیڅ شریک نلری، او زه ګواهي ورکوم چې زمونږ سردار او نبي محمد صلى الله عليه وسلم د الله جل جلاله بنده او رسول دی، درود سلام او برکت دي وي په هغه او د هغه په آل او په ملګرو او په هغه چا باندي چې د قیامت تر ورځې پوري په نیکی سره د هغه تابعداري کوي.

**و بعد:**

یقینا الله تعالی انسان ته کرامت او عزت ورکړی دی پخپلو لاسونو یي په ښه شکل باندې پیدا کړی او په هغه کې یي روح پو کړی دی او په عقل سره یی له نورو ځانګړی کړی او په ملائکو باندي یي ورته سجده کړې ده او څه چې د ځمکې په سر دې ټول یي ورته تابع کړي دې او پخپلو ډیرو مخلوقاتو باندي یی فضیلت ورته ورکړی لکه چې الله تعالی فرمایي: « وَلَقَدْ كَرَّمْنَا بَنِي ءَادَمَ وَحَمَلْنَاهُمْ فِي الْبَرِّ وَالْبَحْرِ وَرَزَقْنَاهُمْ مِّنَ الطَّيِّبَاتِ وَفَضَّلْنَاهُمْ عَلَى كَثِيرٍ مِّمَّنْ خَلَقْنَا تَفْضِيلاً»ژباړه:« دا خو زمونږ پېرزوینه ده چې بنیادم ته مو لويي ورکړه، په وچه او لمده کښې مو سپرلۍ ورکړې او له پاکو شیانو څخه مو روزي ور په برخه کړه او پر خپلو زیاترو مخلوقاتو مو ښکاره لوړتیا ور وبښله.»، ځکه انسان ډیر یو لوی بار امانت پخپله غاړه اخیستی هغه بار چې اسمانونو او ځمکو ته وړاندې شوی هغوی تري انکار کړی دا دمکلفیت امانت دی چې د کوښښ او هڅو او د

کار غوښتنه کوي او د عباداتو ترڅنګ د ځمکې او د خاورې آبادول دي لکه چې الله تعالی فرمايي: « فَإِذَا قُضِيَتِ الصَّلَاةُ فَانتَشِرُوا فِي الْأَرْضِ وَابْتَغُوا مِن فَضْلِ اللَّهِ وَاذْكُرُوا اللَّهَ كَثِيرًا لَّعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ»ژباړه:« بيا کله چې لمونځ تر سره شي، نو په ځمکه کښې خواره شئ او د الله فضل ولټوئ. او د الله ډېر ډېر يادوونکي اوسئ. ښايي چې تاسي ته برى په برخه شي».

نو مسلمان بايد پدې پوه شي هر هغه کار چې پخپل ژوند کې کوي د هغه په نيکيو او يا هم په بديو کې ليکل کيږي لکه چې پدې هکله الله تعالى فرمايي: « فَمَنْ يَعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ خَيْرًا يَرَه * وَمَنْ يَعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ شَرًّا يَرَه»، او په بل ځای کې فرمايي: «يَوْمَ تَجِدُ كُلُّ نَفْسٍ مَّا عَمِلَتْ مِنْ خَيْرٍ مُّحْضَرًا وَمَا عَمِلَتْ مِن سُوءٍ تَوَدُّ لَوْ أَنَّ بَيْنَهَا وَبَيْنَهُ أَمَدًا بَعِيدًا وَيُحَذِّرُكُمُ اللَّهُ نَفْسَهُ وَاللَّهُ رَءُوفٌ بِالْعِبَادِ»، د عمل مفهوم عام دى د انسان هر کار ته شامليږي هغه که وينا وي او که کړنه وي، خو په نيک کار کې بيا شرط دا دى چې يواځې د الله تعالى لپاره وي او په ښه ډول ترسره شي لکه چې الله تعالى فرمايي: « وَمَا أُمِرُوا إِلَّا لِيَعْبُدُوا اللَّهَ مُخْلِصِينَ لَهُ الدِّينَ حُنَفَاءَ وَيُقِيمُوا الصَّلَاةَ وَيُؤْتُوا الزَّكَاةَ وَذَلِكَ دِينُ الْقَيِّمَةِ»، همدارنګه نبي کريم صلى الله عليه وسلم فرمايي: الله تعالى خوښ ګڼي کله چې په تاسو کې څوک کار کوې او په ښه ډول ترسره کړې.

بې له شکه په اسلام کې د نيکو کارونو مفهوم ډېر پراخه دى هر هغه کار ته شامليږي چې الله تعالى فرض کړې چې پدې کې عبادات راځې چې لمونځ روژه زکات حج ذکر او داسي نور دي دا هغه بنسټيز کارونه دې چې مسلمان بايد هرو مرو سرته ورسوي لکه چې الله تعالى فرمايي: « يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا ارْكَعُوا وَاسْجُدُوا وَاعْبُدُوا رَبَّكُمْ وَافْعَلُوا الْخَيْرَ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ»، په بل ځای کې فرمايي: « وَأَقِيمُوا الصَّلَاةَ وَآتُوا الزَّكَاةَ وَأَطِيعُوا الرَّسُولَ لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُونَ»، همدارنګه نبي کريم صلى الله عليه وسلم فرمايي: پاکوالى د ايمان نيمايي برخه ده او الحمد لله د نيکيو تله ډکوي

سبحان الله او الحمد لله د اسمانونو او ځمکو منځ ډوله ډکوي صدقه دليل دی صبر رڼا ده او داسي نور.
د نيکو کارونو د جملي څخه چې مناسبه ده هر مسلمان په ځان کې راولي ريښتيا ويل او ښه خبره کول دي او د سلام خپراوی او همدارنګه هر هغه کار دی چې د انسانانو ترمنځ مينه او محبت زياتيږي لکه چې الله تعالی فرمايي: « وَقُلْ لِعِبَادِي يَقُولُوا الَّتِي هِيَ أَحْسَنُ» همدارنګه پدي هکله د نبي کريم صلی الله عليه وسلم څخه بيلابيل حديثونه راغلي دي چې په همدې باندې يي ټينګار کړی چې بايد انسانان پخپلو منځو کې مينه اوړ محبت ترسره کړي او نيک اخلاق وکړي.
نيک کارونه يواځي يو اړخ پوري تړاو نلري بلکي بيلابيل اړخونه لري هر هغه څه چې بشري ارزښتونه ثابتوي او همدارنګه د ټولنو په جوړني کې برخه اخلي او همدارنګه نفسونه پاکوي او د خلکو او د خلکو ترمنځ مينه محبت او او همکاري خپروي او زغم ميني محبت او د رحمت ارزښتونه لوړوي نو همدا نيک کارونه دي د اسلام مبارک دين د انسان لپاره چې د کار لپآره وځي ترڅو ځان د حرامو څخه وساتي او د خپل ځان او د کورني د روزي ګټلو لپآره خولی تويوي دا پخپله نيک کار دی او په هغه باندي ديته ثواب ملاويږي ځکه چې د پيغمبر (ص) دا کار د الله په لاره کې د وتلو سره برابر کړی دی کله چې يو سړی د پيغمبر (ص) ترڅنګ تيريده نو د پيغمبر (ص) صحابه ؤ د هغه ځواک او فعاليت چې وليدلو نو وويلو اي د الله رسوله که چيرته هغه د الله په لاره کې وي نو پيغمبر (ص) وفرمايل: که چيرته هغه هڅه کوي او وتلی وي چې د خپلو بچو لپاره هڅه کوي نو هغه دالله په لاره کې دی او که چيرته خپلو مور او پلار چې هغوي سپين ږيري وي د هغوي لپآره څه ګټي هغه هم د الله په لاره کې دي او که چيرته دی لپآره وتلی وي چې خپل ځان لپآره څه پيدا کړي ترڅو ځان پري وساتي نو هغه هم د الله په لاره کې دي او که

چيرته هغه وتلي وي چې ريا او کبر کوي نو هغه د شيطان په لاره کې دی.

پيغمبر (ص) مونږ لپآره ښه پيشوا دی هغه پخپله کار کولو او همدارنګه د خپل د کورني خدمت يی کولو حضرت عايشه رضي الله عنها فرمايی چې پيغمبر (ص) به خپلي پڼي او خپل کالي به خپله برابرول او په مور کې به يی داسی کار کولو لکه چې څوک د هغوي په کور کې کار کوي لکه پيغمبر (ص) فرمايلي دي: که يو سړي د خپل اهل لپآره نفقه برابروي نو د هغه لپآره صدقه ګرځي  په تاسو کې غوره هغه څوک دی چې د خپل اهل لپآره غوره وي او زه په تاسو کې غوره يم د خپل اهل لپآره.

د نيکو کارونو د جملي څخه دا هم دي چې انسان بل چاته ګټه ورسوي ډيره وي که لګه مادي وي که معنوي وي الله(ج)فرمايي:« لَا خَيْرَ فِي كَثِيرٍ مِنْ نَجْوَاهُمْ إِلَّا مَنْ أَمَرَ بِصَدَقَةٍ أَوْ مَعْرُوفٍ أَوْ إِصْلَاحٍ بَيْنَ النَّاسِ وَمَنْ يَفْعَلْ ذَلِكَ ابْتِغَاءَ مَرْضَاتِ اللَّهِ فَسَوْفَ نُؤْتِيهِ أَجْرًا عَظِيمًا»ژباړه:« د خلکو په پټو مجلسونو کښي زياتره څه ښېګڼه نه وي. هو، که څوك په پټه توګه د صدقې او خيرات لارښوونه وکړي يا د کوم ښه کار لپاره يا د خلکو په چارو کښي د اصلاح کولو لپاره چا ته څه ووايي، نو البته دا ښه خبره ده، او څوك چي د الله د خوشحالولو په خاطر داسي وکړي، هغه ته به موږ لوی ثواب ور په برخه کړو؛» پيغمبر (ص) فرمايلي دي:د چا سره چې يو سه کوم شي اضافه وي نو هغه د بلچا ته ورکړي هغه چاته چې هغه ونلري او همدارنګه د چا سره چې خواړه اضافه وي نو هغه د هغه چاته ورکړي چې هغه خواړه نلري، پيغمبر (ص) همدارنګه په ډيری احاديثو کې د خير او د ښيګڼي کارونو ته هڅه کړي ده لکه چې فرمايلي دي: د خير او د ښيګڼي دروازي ډيری دي چې پدي کې تسبيح حمد او ثنا ويل تکبير ويل کلمه ويل په نيکو کارونو باندي امر کول او د بدو څخه منع کول او د لاری څخه ضرر رسونکې شئ لری کول کوڼ سړي ته خبره اورول او ړوند سړي ته لاره ښودل او همدارنګه هغه څوک چې يو شئ

ته اړتیا لري د هغه اړتیا پوره کول او داسی نور نو دا ټول کارونه په نیکو او ښیګڼو کې راځي.
همدارنګه ددي جملي څخه جوړښت او سمون او بیا آبادول راځي ځکه د اسلام مبارک دین هرهغه کار چې د ټولني د پرمختګ او د جوړني په لاره کې برخه اخلي هغه یی غوره ګڼلي دي او هغه ته د عزت په سترګه ګوري په قرآنکریم ۳۶۰ آیتونه راغلي چې د اعمالو په هکله خبری کړي دي او همدارنګه د الله جل جلاله ذکر زمونږ لپآره یو نمونه ده او همدارنګه د هغه چا لپآره چې هغوي نیک عملونه کوي لکه چې الله (ج) فرمايي:« هُوَ أَنشَأَكُم مِّنَ الْأَرْضِ وَاسْتَعْمَرَكُمْ فِيهَا» او دا پدي باندي ټینګار کوي هغه خلک چې په صناعت یا زراعت او یا په سوداګري کې کار کوي هغوي هم ډیر لوي اجر لري هغوي هم هغه څه باندي چې هغوي هڅه او کوښښ کوي او همدارنګه صناعت هم د ژوند د ارزښتونو څخه یو ارزښت ګڼل کیږي نو هغه هم ثواب لري لکه د اوسپني صناعت او داسی نور لکه چې الله (ج) فرمايي:« وَأَنْزَلْنَا الْحَدِيدَ فِيهِ بَأْسٌ شَدِيدٌ وَمَنَافِعُ لِلنَّاسِ»د کښتیو د جوړولو په هکله هم الله جل جلاله فرمايي:« فَأَوْحَيْنَا إِلَيْهِ أَنِ اصْنَعِ الْفُلْكَ بِأَعْيُنِنَا وَوَحْيِنَا»او همدارنګه د کالیو د صنعت په هکله هم راغلي دي:« وَمِنْ أَصْوَافِهَا وَأَوْبَارِهَا وَأَشْعَارِهَا أَثَاثًا وَمَتَاعًا إِلَى حِينٍ» په بل ځای کې فرمايي:« وَجَعَلَ لَكُمْ سَرَابِيلَ تَقِيكُمُ الْحَرَّ وَسَرَابِيلَ تَقِيكُمْ بَأْسَكُمْ» همدارنګه د څرمنو د صناعت په هکله الله (ج) فرمايي:« وَجَعَلَ لَكُمْ مِنْ جُلُودِ الأَنْعَامِ بُيُوتًا تَسْتَخِفُّونَهَا يَوْمَ ظَعْنِكُمْ وَيَوْمَ إِقَامَتِكُمْ».
نیک کارونه یواځې دا ندي چې ګټه یی خلکو او انسانانو ته ورسیږي بلکي دا بشپړ او پراخه دي بلکي دا هر هغه کار ته شاملیږي چې ګټه حیواناتو او جماداتو ته رسیږي کله چې پیغمبر (ص) د هزیل په قبیلي په اوښانو باندي تیریدو نو وي فرمایل د الله څخه تاسو وویریږي او دغو حیواناتو باندي رحم وکړي ښه ډول سپاره شی او ښه ډول یی پریږدي پیغمبر (ص) فرمايلي دي: یو سړی چې په لاره باندي ځي او اغزه پیدا

کړي او هغه لري کړي پدي باندي د الله شکر اداء کړي نو الله به هغه ته بخښنه وکړي همدارنګه پيغمبر (ص) فرمايلي دي: ما يو سړی وليدو چې په جنت کې وو او هغه د لاری څخه داسی يو شې لری کړی وو چې خلکو ته يې زيان رسولو.
بد کارونه بيا هر هغه کار ته شامليږي چې الله (ج) پری غصه کيږي او انسان د سمون اصلاح والي د چوکاټ څخه فساد ته وباسي او په همدي باندي د طاعتونو څخه لري کيږي او همدارنګه منکر او فاحش کارونه کوي لکه د والدينو د حقوقو نه مراعت کول او د خلکو په مالونو او حياء باندي تيری او همدارنګګه ددی جملي څخه انسان خپل مسؤاليت د خپل کورني په وارندی پريږدي او په هغه کې کوتاوالي وکړي او همدارنګه د خپلو اولادونو په روزنه کې کوتاوالي وکړي او هغوي په ښه توګه وه روزي پدي هکله الله (ج) فرمايي:« يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا قُوا أَنفُسَكُمْ وَأَهْلِيكُمْ نَارًا»ژباړه:« اې مؤمنانو! خپل ځانونه، خپل اولاد او کورنۍ له هغه اور څخه وژغورئ»همدارنګه د پيغمبر (ص) څخه هم پدي هکله بيلابيل حديثونه راغلي دي.
او همدارنګه ددی جملي څخه په ځمکه ک فساد خپرول او همدارنګه د هغه افکارو لمنځه وړل چې جوړونکي وي او د راويجاړونکې افکارو او دروغو خپرول او همدارنګه باآمنه ويرول پدي هکله الله (ج) فرمايي:«وَلاَ تُفْسِدُوا فِي الأَرْضِ بَعْدَ إِصْلاحِهَا » او بيا فرمايي:« إِنَّمَا جَزَاءُ الَّذِينَ يُحَارِبُونَ اللَّهَ وَرَسُولَهُ وَيَسْعَوْنَ فِي الأَرْضِ فَسَادًا أَنْ يُقَتَّلُوا أَوْ يُصَلَّبُوا أَوْ تُقَطَّعَ أَيْدِيهِمْ وَأَرْجُلُهُمْ مِنْ خِلافٍ أَوْ يُنفَوْا مِنَ الأَرْضِ ذَلِكَ لَهُمْ خِزْيٌ فِي الدُّنيَا وَلَهُمْ فِي الآخِرَةِ عَذَابٌ عَظِيمٌ»ژباړه:« کوم خلك چي له الله او د هغه له پيغمبر سره جنګيږي او په ځمکه کښي ددې لپاره منډي ترډي کوي چي فساد را ولاړ کړي، نو د هغو سزا دا ده چي ووژل شي، يا په دار وځړول شي، يا يې لاسونه او پښې ردو بدلې غوځي کړای شي، يا له وطنه وشړل شي. دا ذلت او سپکاوی خو د هغو لپاره په دُنيا کښي دی، او

په اخرت کښې د هغو لپاره له دې څخه هم لویه سزا ده» او بیا فرمایي:« وَلا تَبْغِ الْفَسَادَ فِي الأَرْضِ إِنَّ اللَّهَ لا يُحِبُّ الْمُفْسِدِينَ»همدارنګه پیغمبر (ص) فرمایلي دي په تاسو کې غوره هغه څوک دی چې د هغه څخه د خیر او دښیګڼې امید کیږي او د شر څخه یی په امان که وي او په تاسو کې شر هغه دی چې د خیر ښیګڼه تری نکیږي او د شر څخه یی څوک په امان کې نه وي همدارنګه ددی جملي څخه په لاره کې خلکو ته زیان رسول او ضررناک شیان غورځول داهم لویه ګناه ده پیغمبر (ص) پدي هکله فرمایلي دي نه به چاته ضرر رسوی او نه به څوک پریږدي چې تاته ضرر ورسوي همدارنګه پیغمبر (ص) فرمایلي دي څوک چې مسلمانانو ته زیان رسوي د هغوي پدي باندي واجبیږي.
همدارنګه ددی جملي څخه هغه څه چې د خلکو ترمنځ کینه او حسد پیدا کوي او همدارنګه هغوي مادي او معنوي زیانونه رسول لکه غیبت تهمت مسخره کول ټوکې ټکالي او په یو چا باندي غلط نوم ایښودل او همدارنګه ښکنځلي کول او فحش خبري کول دا هغه څیزونه دږ چې اسلام د هغه څخه منع کړي او د اخلاق او د سم فطرت سره په ټکر کې وي پیغمبر (ص) په احادیثو کې په همدي باندي ټینګار شوی دی او همدارنګه د غیبت بهتان او همدارنګه د نورو کارونو څخه منع راغلی ده.

## اقول قولی هذا و استغفرالله لی ولکم

*********

ټول ثنا او صفت د هغه الله جل جلاله لپاره دی چې د ټولو مخلوقاتو پالونکی دی، او زه ګواهي ورکوم چې نشته لایق د عبادت مګر یو الله دی چې هیڅ شریک نلری، او زه ګواهي ورکوم چې زمونږ سردار او نبي محمد صلی الله علیه وسلم د الله جل جلاله بنده او رسول دی درود سلام او

برکت دي وي په هغه او د هغه په آل او په ملګرو او په هغه چا باندي چې د قیامت تر ورځي پوري په نیکۍ سره د هغه تابعداري کوي.

**ډیرو درنو مسلمانانو ورونو:**

هر عمل چې انسان او بنده یی سرته رسوي د هغه اغیزی بیرته هغه ته راګرځي په دنیا کې وي که په آخرت کې د نیکو کارونو ثمره ښ ژوند په دنیا او آخرت کې ورپه برخه کیږي لکه چې الله (ج) فرمايي:« مَنْ عَمِلَ صَالِحًا مِنْ ذَكَرٍ أَوْ أُنْثَى وَهُوَ مُؤْمِنٌ فَلَنُحْيِيَنَّهُ حَيَاةً طَيِّبَةً وَلَنَجْزِيَنَّهُمْ أَجْرَهُمْ بِأَحْسَنِ مَا كَانُوا يَعْمَلُونَ»ژباړه:« هر څوك چې ښه عمل وکړي که هغه نارینه وي او که ښځه، په دې شرط چې مؤمن وي، پر هغه به موږ په دُنیا کښي سپیڅلی ژوند تېر کړو او (په اخرت کښي به) دغسي خلکو ته د هغو اجر له ډېرو ښو عملونو سره سم ورکړو»اولدي جملي څخه هغه ه به اجر ورکول کیږي او د مرګ څخه وروسته به ددی اجر ګوري پیغمبر (ص) پدي هکله فرمايي: اووه داسی کارونه دي چې بنده لپآره د هغه اجر به د مرګ څخه وروسته ورکول کیږي پداسی حال کې چې هغه په قبر کې وي څوک چې علم وکړي او همدارنګه یو نیغ جوړ کړي او یا کوهي وکاږي او یا یو ونه کینوي او یا جومات جوړ کړي او یا قران شریف چاته ورکړي او یا داسی اولاد پریږدي چې د هغه لپآره د مرګ څخه وروسته بخښنه وغواړي، همدارنګه ددی جملي څخه د بدیو معاف کیدل او په نیکو باندي بدلیدل دي الله (ج) فرمايي:« وَالَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ لَنُكَفِّرَنَّ عَنْهُمْ سَيِّئَاتِهِمْ وَلَنَجْزِيَنَّهُمْ أَحْسَنَ الَّذِي كَانُوا يَعْمَلُونَ»ژباړه:« او کوم کسان چې ایمان راوړي او نېک عملونه وکړي، د هغو بدۍ به ترې ایسته کړو او هغو ته به د ډېرو غوره عملونو مکافات ورکړو» همدارنګه ددی جملي څخه لوي جزاء او همدارنګه د پیغمبرانو صدیقینو او شهیدانو سره یو ځای والي دي لکه چې الله (ج) فرمايي:« إِنَّ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ كَانَتْ لَهُمْ جَنَّاتُ الْفِرْدَوْسِ نُزُلًا» ، او بیا

فرمايي:«وَمَنْ يُطِعِ اللَّهَ وَالرَّسُولَ فَأُولَئِكَ مَعَ الَّذِينَ أَنْعَمَ اللَّهُ عَلَيْهِمْ مِنَ النَّبِيِّينَ وَالصِّدِّيقِينَ وَالشُّهَدَاءِ وَالصَّالِحِينَ وَحَسُنَ أُولَئِكَ رَفِيقًا»ژباړه:« څوك چي د الله او پيغمبر اطاعت وكړي، نو د هغو خلكو ملګري به وي چي الله پيرزوينه پر كړيده؛ يعني: پيغمبران، ربښتيا ويونكي، شهيدان او صالحان. د هغو ملګرتيا څومره ښه ده چي چا ته په برخه شي».

لكه څنګه چي د نيكو كارونو بدله او ثمره وركول كيږي هدغسي بد كارونو هم خپل اغيزي لري چي په دنيا او آخرت كي د هغه خاوند ته رسيږي لدي جملي څخه ګمراهي حيرانتيا لكه چي الله (ج) فرمايي:« أَفَمَنْ زُيِّنَ لَهُ سُوءُ عَمَلِهِ فَرَآهُ حَسَنًا فَإِنَّ اللهَ يُضِلُّ مَنْ يَشَاءُ وَيَهْدِي مَنْ يَشَاءُ»، همدارنګه لدي جملي څخه ګډوډ ژوند دی چي برقراری پكي نه رامنځته كيږي لكه چي الله (ج) فرمايي:« وَمَنْ أَعْرَضَ عَنْ ذِكْرِي فَإِنَّ لَهُ مَعِيشَةً ضَنْكًا» همدارنګه ددی جملي څخه د قيامت په ورځ به د هغه بد نصيب وي لكه چي پدي هكله الله (ج) فرمايي:« إِنَّ الَّذِينَ يَأْكُلُونَ أَمْوَالَ الْيَتَامَى ظُلْمًا إِنَّمَا يَأْكُلُونَ فِي بُطُونِهِمْ نَارًا وَسَيَصْلَوْنَ سَعِيرًا»ژباړه:« كوم خلك چي په ظلم سره د يتيمانو مالونه خوري، په حقيقت كښي هغوی خپلي ګيډي له اوره ډكوي، او هغوی به هرو مرو د دوږخ تاوجن اور ته ورننوځي»همدارنګه نبي كريم(ص) هم په بيلابيلو احاديثو كي په همدی باندي ټينګار كړی دی.

مونږ او تاسو ته مناسبه ده چي ټول د خير او د ښيګڼي كارونه وكړو چي خلكو ته پري ګټه ورسيږي او همدارنګه د هر شر رسونكي او ضرر رسونكي كار څخه ځان لری وساتو او ټل كوښښ وكړو چي خلكو ته ګټه ورسوو او په حق باندي ولاړ ووسو الله جل جلاله فرمايي:« وَالْعَصْرِ * إِنَّ الْإِنْسَانَ لَفِي خُسْرٍ * إِلَّا الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ وَتَوَاصَوْا بِالْحَقِّ وَتَوَاصَوْا بِالصَّبْرِ».

الله جل جلاله ته مونږ سوال كوو چي د خير او دښيګڼي توفيق راكړي اود غلطو څخه مو وساتي او د مساكينو او د بی وزلو سره د مرستي توفيق

راکړي او همدارنګه الله د مونږ ته اخلاص راکړي چې زمونږ عملونه
قوبل شي او زمونږ.ګران هیواد نسل د نړۍ نورو هیوادونو سره یو ځاي
په امن کې وساتي.